دوکتور محمد اکبر یوسفی ۲۰۱۲/۰۱/۱۹

# د «اوغان (یوه تحقیقاتی څیړنه)» په باب څو ټیکی!

محترم عبدالباری جهانی، ما ته د پښتو د ژبی د معاصر شاعرانو په صف کی یو قوی شاعر معرفی دی. که څه هم د شعر استعداد نلرم، خو د ژبی د غنی کیدو او د فرهنګ او « کلتور» په برخه کښی تر یوه حده پوری په اهمیت یی پوهیږم، او شعر ته درناوی لرم. مګر د مفاهیم په اړه هغه څه چه ټولنی او علم ته ګټور وبولم، تر هغه حده پوری چه ممکن وی خپل نظر وایم، بیله دی چه د کوم چا، سپکاوی په نظر کی ولرم. دا باید ووایم چه نظریه او علمی نتیجه یوه ده، او د انسان کرامت او شخصیت بیل شی دی، چه د هر متمدن او سالم انسان له خوا د احترام، حفاظت او عزت څخه برخمند دی.
کله چه می د دوی د «اوغان (یوه تحقیقاتی څیړنه)»، لیکنی ته نظر واچاوه، ماته حتی په لمړی کرښه کښی، د تشویش وړ احساس را پیدا سو، چه مبدا، د داسی مفاهیمو د « اختراع » په لړ کی د افغانانو د سترو قومونو د هویت په باب، چه تر ډیره حده، روښانه تاریخ وجود لری، د کلماتو د « اختراع » د لاری، په اصطلاح یو ډول «مغشوشیت» را مینځ ته نسی. دا به ممکن وی چه دلته او هلته په مختلفو پیړیو کښی او د ډیرو لیکوالانو له خوا، په ډیرو ژبو کښی لیکنی او یا علمی « تحلیلونه » وجود ولری. خو پدی کښی شک نسته چه حتی په پخوانی لیکنو کښی، د « شوونیستی » او نژاد پرستو له خوا، هم ناوړه حکمونه وجود ولری. خو کله چه د داسی مفاهیمو په باب څیړنه لازم وی، ترڅو چه سړی حقیقت ته یوه نسبی نږدیوالی تر لاسه کړی، نو بایده ده چه، د همغه موضوع سره سم، لازم قدمونه واخستل سی. دا پدی معنی نده، چه څوک د لوست او یا د آزاد « څیړنی » حق ونلری. دا هم باید له نظره و انچول سی، چه ځینی څیړنی هم هغه وخت، به د ښه کیفیت او د باور وړ نتیجی ولری، چه د یوی « پروژی » په ډول وسنجول سی او د هغه د پاره، تر هری اندازی پوری چه ممکن وی معلومات او منابع راټول او د اختصاصی کار پوهانو له خوا و څیړل سی.

ددی لیکنی په ډیرو جملو کښی، محترم جهانی داسی افادی راوړی، چه لوستونکی ځینی د افغان او افغانانو کلمه پښتون او پښتانه سره، یو پوهیږی او یا لږ تر لږه یوی « دوی لاری » مفهوم سره مخامخ کیږی. حتی داسی بوی ځینی سړمو ته رسیږی چه ګویا دده هم لکه نور چه غلطی کړی، د افغان د کلمی څخه یواځی د پښتون مفهوم اخلی. دلته باید توجه کړی وای. د پوهی پر بنسټ هر پښتون افغان دی، لیکن هر افغان حتماً پښتون ندی. د سلیمان د غرو په لمنو او د ارغستان د غرونو په سیمه کښی ډیر پخوا، عمدتاً پښتانه قبایل اوسیدل چه لا دولتی جوړښت وجود نه درلود، مګر خپل قومونه یی ددی خاورو او« قلمرونو» مالک بلل، چه تر ډیری مودی پوری ددوی په نوم یادیدل. ددی سیمی د اوسیدونکو په باب د چینایی او هندی « مسافرو »، په راپورونو کښی د اسلام د مخه تذکرات سته او حتی ممکن د عیسویت تر مخه هم موجود وی. خو د نورو « نژادونو » د موجودیت نفی هم په راپورونو کښی ندی لیدل سوی. دا « تمایل » چه پر پښتنو باندی یواځی د ځینو غیر پښتنو له خوا، په غلطه، افغان ویل سوی وی، نو فوراً دا معنی نسی درلودلای، چه هر چیری به همداسی غلطی روان وی.
که چیری د تاریخ په اږدو کښی، بیګانه « مسافر » او یا د هغو مؤرخینو، « مترادف » یا (Synonym)، کلمات د پښتنو په باب ذکر کړی وی، او که چیری د دوی خپل پوهان او یا عوام خلک یی هم، پدی باب کوم عکس العمل نوی ښودلی، نو دا معنی نلری، چه ګویا پښتانه، کوم بل « نوم » او لکه څنګه چه نن ورځ معمول دی، مستعار نوم ته به ضرورت درلودلی وی. نه داسی نه ده، د اوسنی افغانستان په خاوره کښی چه د ډیرو جیولوژیکی احتمالی حوادثو کښی، د ځمکنی وضعیت باندی لوی تغییر ندی راغلی، ډیر ستر قومونو ژوند درلودل، چه وروسته دی وطن ته د افغانستان او ټولو قومونو ته یی د افغان نوم ورته ورکړل سوی. دا چه احتمالاً ځینی عوام خلک و پښتنو ته یواځی د افغان د منسوبیدو هڅی به لری، د منطق او علم څخه لیری ادعا ده. دا هم فقط هغو خاصو « پوهانو » ته معلومه ده، چه د ژبو په کلمو، مفاهیم او نومونه پوه دی او خبر دی، چه په تاریخ کښی، په څه شکل او « ښه » توپیر موندلی. د ژبی او یا « الفبا » د اختراع څخه راهیسی ډیری دوری تیری سوی. هیڅوک دا ادعا نلری، چه پدی ټولو مطالبو پوه دی. خو دومره اوری چه د تاریخ په اږدو کښی په هره ژبه کښی، نوی علامی او نوی تلفظونه راغلی، چه زه ځان ددی برخی متخصص نه بولم.

پدی کی شک نسته چه ددی خاوری لکه نورو قومونو په شان، په ځینی مراحلو کښی او د خپلی «ټاټوبی» په ساحه کښی پشتون قوم له ډیری اوږدی زمانی څخه د یو شجیع او جسور قوم په توګه هم نوم لری. د همداسی قومونو، یعنی د پښتون او غیر پښتون ځخه، لوی او د افتخار وړ نوم، یعنی افغان کلمه د دوی د منسوبیت د پاره ژوندون موندلی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د دی ملت او قوم هره برخه، خپل خصوصیتونه او ځینی مشخصات او د خپل ټولنیز ارزښتونه یی تر ډیرو نورو قومونو په دنیا کی سر لوړی ساتلی. مخ کښی تر دی چه د څیړنی پر اصولو باندی، خبری وسی، جالب ښکاری چه محترم جهانی د مثال په توګه خپل لمړی کرښه داسی پیل کړی: « د افغان کلمی، قبایلو او تاریخ په باره کی کافی تحقیقات سوی او حتی کتابونه وربادی لیکل سوی دی..»

زه پر کلماتو باندی تکیه نکوم. لمړی تر ټولو زما سؤال دا دی چه دوی خپل دا « څیړنه » د یوی څه ډول ضروری «پروژی» له لاری، پر مخ بیولی او د علمی تحقیقاتی اصولو په چوکات کښی، څنګه چه د نړی په لوړو علمی مؤسساتو کی، لکه پوهنتونونه اویا نور د اعتبار خاوند، اختصاصی تحقیقاتی تأسیساتو کښی معمول دی، د کومو «نورمونو» او دسند پیژندنی طریقو څخه کار اخستی دی. آیا د دوی یواځی کار دی، که پدی کار کی د کوم «ټیم» په ډول «څیړنه» کړی. آیا ددی «څیړنی» نتیجه او «نهایی» لیکنه د معتبرو متخصصینو له خوا، د تأیید وړ ګرځیدلی او که چیری دوی خپله د همداسی «بین المللی» علمی صلاحیت د خاص تحصیل د لاری تر لاسه کړی او یا د «جواز» په درلودلو سره لکه د حقوقی دفاترو په شان چه «نوتار» (Notar) ورته ویل کیږی، دا «سند» وړاندی کړی. د کلماتو د تغییر په باب، د تاریخ په اړدو کښی ځانته اختصاصی عالمان او منابع وجود لری. د انسان او یا د «بشر» د تکامل، تاریخی منابع سته چه د هغو د پاره په جهان کښی معتبر مرکزونه وجود لری.

زه د دوی ددی متن په باب اوس قضاوت نسم کولای، ځکه پدی برخه کی د تخصص ادعا نکوم، له بلی خوا د دوی د مؤخذ منابع هم په اختیار کی نلرم، تر څو چه ولیدل سی، چه دا کلمات د تاریخ په اړدو کښی په څه مفهوم ذکر سوی. خو که نسبت یی و کوم «نژاد» او یا «ایتنی» ته وی ، دا ایجابوی چه سړی د «نژادونو» د پوهانو په مرسته د لوستلو معتبر منابع تر لاسه کړی.

بیله دی چه سړی د ټولنو په باب متخصص وی، پدی خو اقلا پوهیږی، چه د یوی تاریخی «ارزیابی په تأیید» او یا د « رد» په وسیله، تاریخ ته تغیر نسی ورکولای. لیکن که ممکن وی داسی قوی سندونه او د باور وړ «فکتونه» وړاندی کړی، تر څو چه د لوستونکو نظر «مثبت» خوا ته واړول سی. پدی هم باید باور ولرو چه د «حدس» پر اساس، یو خاص «نژاد» یا «ایتنی»، او یا نوی ټولنه نسی ژوندی کیدلای. د داسی ذهنی مشغولیت هدف به څه وی؟ ما ته د تعجب وړ سوه، کله می چه دا جمله تر سترګو سوه:
« <u>زما په عقیده، دغه مغولي اوغانیان به په ډیر لږ و خت کي مسلمانان سوي</u>» ) څومره لږ؟، ورځ، میاشت، کال، کلونه؟، مسلمان کیدل د نژاد سره که نژادی ریښه هدف وی، څه اړیکی لری؟ « <u>او په خپل شا و خواکي به له ایرانیانو او یا کرمان ته څرمه بلوڅانو سره ګډه سوي وي او وروسته به یي ژبه او مغلي فرهنګ له لاسه ورکړی وی..</u>». دا عجیبه خبره ده، چه لومړی یو داسی نا معلومه ډله نه څیړل سوی ډله په نورو «دریو» ډلو کی د مدغم کیدو«حدس» وهی. او دا په موږ لوستونکو منل غواړی؟ مشخصه نتیجه به یی څه وی؟ نه پوهیږم چه ګرانو لوستونکو ته به دا تاریخی «ګډ » « سلاد یا سلاته» څه خوند ورکړی. خو زما اشتها به ور باندی را نسی، تر هغه وخته پوری چه می د پوهانو څخه معتبر معلومات تر لاسه کړی نوی. تر اوسه نه په همدی لیکنه کښی او نه په نورو منابعو کښی ما ته دقیق معلومات ترلاسه سوی، چه ایران یا ایرانیان د څه وخت څخه را هیسی او یا په څه ارتباط اختراع سوی، خو دا زما سوال ندی. اما کله چه تاریخی څیړنی کیږی، باید زمان ته منظمه توجه واړول سی . کله چه د تاریخ پاڼو ته ګورو نو د مثال په توګه، د «پارسیانو» امپراتوری ،مخ کی تر دی چه خپله ژبه درلودلی وی ایجاد سوی. او ژبه یی وروسته اختراع سوی. د ډیرو منابعو پر اساس دغه خلک چه د پښتون نوم ورته ورکړل سوی، لا پخوا تر دی چه افغان یا «پټان» کلمی نسبت هم ورته ورکړل سوی وی، باید و جود درلودلی وی، چه د بحث ضرورت نسته. لکه څنګه چه د «پرزیپولس» د حفریاتو څخه معلومیږی چه، ددوی پاچا یا «امپراتور» د یوی خپلی ژبی د اختراع امر ورکړی او د پارسیانو «ایتنی» ته د «پارسی» ژبی نوم ورکړل سوی.

دمحترم جهانی د مقالی په یو بل ځای کښی می هم دا جمله و لوستله: «<u>... ښایي د مغلو او اوغانیانو او جُرمانیانو په باره کې د ځینو فرمانونو او رسمي لیکونو په بیروی دغه افغانان هم اوغانیان بولي او دهغه وخت له زیاترو مورخینو څخه یي توپیر ورک دی.</u>»

ګرانو لوستونکو، ښه پام وکړی چه کوم ډول معلومات، او په څه مقصد او ارتباط خپل «ذهن ته» سپاری. زه د « جُرمانیانو» په کلمه پوه نسوم، چه آیا پدی تلفظ سره، دوی کومه بله نژادی ټولنه کشف کړی او که یی د «جَرمان»، یا«جِرمان» (German) د قبیلی څخه یی مطلب وی. بیله دی څخه چه سړی د «ایتنوګرافی» او یا د تاریخ متخصص وی، په اوسنی «میدیاګانو» کښی خلص او دفهم وړ معلومات وجود لری. د انسان د تکامل او د لمړنی استوګنی د ځایونو، په باب د قرنونو او زرهاو کلونو را پدی خوا، څیړنی سوی. تر اوسه پوری ټولو منابعو کښی افریقا قاره یاده سوی. او په پخوانی «څیړنو» کښی د انسان د «مهاجرت» سمتونه او د هغوی د ژوند په باب ډیر د باور معلوماتونه سته، خو زه هم ځان یو لوستونکی بولم او نه کوم متخصص. لیکن دا می هم تیر کال د تلویزون، په یو راپور کښی


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

واورید، چه د «ارکیالوژیک» نوی نتایج، پخوانی نظریات او معلوماتونو ته د «تجدید» نظر اړتیا وینی، چه په راتلونکو وختونو کښی به روښانه سی.

گرانو لوستونکو: د قبیلو او «طایفو» په باب، د هغوی د مهاجرت او د مختلفو مراحلو د ژوند او فرهنگ په باب، وسیع معلومات وجود لری، چه محترم جهانی صاحب هم پدی باب خپله یادونه کړی. دا منابع دومره وسیع دی، چه سړی یی په یوه عمر کی د لوستلو توان او وخت به و نلری. خو په ځینو ټولنو کی ددی کار د پاره مؤظف او با د استعداد وړ عالمان ټاکل کیږی چه د همداسی «څیړنو» د پاره معاشونه لری او د مسوولیت څخه ډک، درسونه هم ورکوی او خپرونی یی هم لوستل کیږی. لیکن دا هم باید یاد کړم چه دهری یوی «طایفی» په باب «شجری» او «گرافونه» موجود دی، چه ځینی ورته «پیدیگری» (Pedegree) هم وایی. د قدیمی طایفو په باب، په کافی اندازه نومونه لکه « آریایی»، «ترک»، «هیتالی» (یا یفتلی؟)، «سامی» او یا «ایندو اروپایی»یا «هندو ارو پایی» او هم د «ایندو گرمن» او داسی نور یاد سوی. هغه طوایف چه د جمعی په حالت باندی ورته «ایندو جرمانن» ویل سوی، ژبی ته یی زموږ د ژبو سره، لکه «پښتو او «پارسی» یا «فارسی»، یوه ریښه وینی، چه ښاخونه یی سره ډیری لیری او اوږده وده کړی. مگر کله چه مختلفی « طایفی» د اوسنی اروپا او یا آلمان د شمال څخه چه د «جرمانن» (Germanen) په نامه، په «روم» کښی، امپراتوری ایجاد کړه، د یوه خالص «نژادی» ډلی څخه نه، بلکه ترکیبی یا امتزاجی، ډله وه، وروسته پکښی ډیر تغییرات راغلی دی. چه زه نور وربا ندی څه ویل نه غواړم. مگر د هغو طایفو، یو خاص «کرکتر» دا دی چه دوی دنړدی، د زر کالو په اوږدو کښی یوه «ستندرده» یا عالی ژبی ته وده ورکړه، او «تدریجاً» محلی یا «لهجه یی» ژبی یی تر تأثیر راوستل او ځینی یی هم هیریدو ته وسپارل.
مگر هغه څه چه می په یوه تحصیلی اثر کښی لیدلی، چه د یوهانو د تأیید وړ گرځیدلی، کافی بولم چه د اوسنی پښتون د ټاټوبی د تثبیتیدو ښکارندوی دی، یو ځل بیا دلته لنډ نقل یی وړاندی کړم. نور د مغشوشیت د احتمالی تلاشونو، ځواب ته یواځی ځان کاندید نه بولم. خو دی متن ته ستاسو پام اړول غواړم: «اینکه پشتون ها در چه مقطع زمانی، در مناطق مسکونی افغانستان و غرب پاکستان امروزی آمده اند، بطور دقیق نمی توان معلوم کرد. تصور آنست که از تپه ها و دشتهای آسیای میانه که در ادبیات جهان اصطلاح «شتیین» بکار می رود، ناقل شده اند.» نخستین اشاره در مورد آنها، در منابع هندی در قرن ششم عیسوی و هم چنان در منابع چینایی در قرن هفتم عیسوی ثبت شده است.» ( اثر دوکتورا، ص ۲۳ )

مگر پدی سیمی کښی د هغو وگړو چه ورته وروسته افغانان ویل سوی په بیشمارو منابعو کښی د مختصو قبیلو موجودیت د «پارسیانو» او بیا د «یونانیانو» په منابعو کښی سته چه د دغو خلکو د استوگنځی، نښانی ور په گوته کوی. د ضرورت په و خت کښی به وربا ندی تماس و نیول سی. خو که دی لاندی جملو ته، چه زما په یوه مقاله کښی په دری ژبه نشرسوی، نظر واچول سی، گوندی نورو مغلقو قصو ته د پښتنواو افغانانو د هویت په باب، تاریکه نقطه و نه لیدل سی.:« اولاف کروی ، ضمن آنکه از منابع ایکه گزارشات هیرودوتس و یا اسنا د «پرزیپولیس» زمان سیروس، ... داریوش و اسکندر مقدونی و یا زمان هخامنشی ها منتشر گرد یده، نام می برد که آنها از آریا (هرات)،گندارا (پشاور) امروزی و اراکوزی ( قندهار) امروزی نام می برند، درین کتاب نیز شواهد ثبوت را از مناطق پشتونی ، بر حسب ریشه های نژادی یاد می شود. همه و همه نشاندهندۀ، شواهد تاریخی در باره سابقۀ محل زیست قبایل پشتون با بعضی از نمونه های کلتوری، حتی نوع پوشاک آنها، درپهلوی دیگر گروپ های اجتماعی می باشد.
در همین کتاب در هشت محل، معلومات متنوعی را از کتب «هیرودوتس»، نقل می نماید که تفصیل رونویس آنرا ترجیح نمی دهم، ولی در ین گزارشات از اقوامی نام می برد که در جمله، پارسی ها وپشتون ها با اینکه از پشتون با تلفظ پکتویس و پکتوان بکار رفته است از قوم « سگارتویی»، بعنوان مثال که کوچی بوده اند، نام برده شده است. درین جمله نیم پارسی و نیم پکتوان یاد شده است.»( تفصیل صفحه ۲۸ – ۲۹، اولاف کاروی ۱۹۵۸). (منابع، موجودیت دیگر گروپ اینتیک را هم نفی نمی کند ولی منابع دقیق ازادغام نژاد های متعدد، منجمله، ترک و فارسی و احتمالا" هیپتالی، در اقوام مختلف افغانها نیز یاد می نمایند.)

ختم


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ